مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدعیان عیان — ۲۰۲۱/۱۲/۲۸

# تیره مې ځواني شوه

تیره مې ځواني شوه ددونیا په کړاوونوکې+
غم دپاسه غم ؤټوله تیره په سوچونواوغمونوکې
پوی نه شوم په ژوندچې څنګ مې عمرله اویاوونه ورتیرشو+
ژوند په منډه منډه رانه تیرشوپه خیالونواو دردونوکې
هم مې وړوکوالی هم ځواني ترسپین ږیرتوب پورې+
دسترګورپ کې تیرشول دبریښناغوندې پړکونوکې
زماژوند که نیمژواندی په پردي وطن کې پروت یمه+
هلته مې وطن کې خلکوولمبل د سروینوروودونوکې
ما پیکرکاوه چې ژوند به خوږوي اوډیراوږد+
ډیرتریخ راباندې تیرشودټول عمر په کلونوکې
کاشکې چې یواځې دازماژوند ستړی وړی وی+
ټول افغان ولس لکه دازه، غرک سیلابونوکې
ډیردیرغلګروغوبلونه په دې خاوره باندې تیرشول+
اوس هم لاپې مالګې دوړوي زړوزخمونوپرهارونوکې
نیمه پیږی کیږي چې له خپل کلي نه راورک یمه+
زړه تې نه صبریږي هره شپه یې وینم خوبونوکې
ژوند لکه بریښناپه توروورېځوکې یوپړک ؤ+
وریځوکې چې پړک شي زرپناشي ګړنګونوکې
زه عیان په دې ډیرخپه نه یم چې ژوندځنګ راباندې تیرشولو+
ډیرخپه په دې یم چې به مړي موپردیوادیرواوپه قبرونوکې

پای ـ هالیند
د لیکلو نیټه یې: ۲۰۲۱/۱۲/۴ـ ۱۴۰۰/۹/۱۳


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ